**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت** :دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست**

**د دارالانشاء ریاست**

**د متحدالمال ګڼه: ۱۵** **نېټه: ۱۴۴۴/۹/۱**

د عالیقدر امیر المؤمنین «حفظ الله» د ۱۴۴۴/۸/۲۸ نېټې د (۳۲) ګڼه فرمان او د دغه محترم مقام د ۱۴۴۴/۸/۲۸ نېټې د شفاهي هدایت له مخې، دا اداره په وزارتونو، اماراتي ادارو او خصوصي سکتور کې د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ مقام د ټولو حکمونو، فرمانونو او هدایاتو د تحقق د څرنګوالي په تعقیب او نظارت مکلفه ده. له همدې کبله، د یاد عالي مقام د فرمانونو، حکمونو او هدایاتو د تحقق له څرنګوالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د ملکي او نظامي په ګډون ټولو مرکزي او ولایتي ریاستونو ته د څوارلسم شمیری متحد المال نیټه ۱۴۴۴/۸/۲۸ په تعقیب د لاندې مواردو په اړه هدایت ورکول کېږي:

۱) د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ عالي مقام د پورته ګڼې فرمان په صادرولو سره، د لوی څارنوالی د نوم پر ځای دې د «فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست» نوم وکارول شي.

۲) د یاد متحدالمال د (۱) فقرې په پام کې نیولو سره، د ولایتونو د استیناف څارنوالی ریاستونه دې د «د ... ولایت د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت ریاست» په نوم یاد او خپل رسمي مراسلات دې په پورته ذکر شوي ګڼه فرمان کې د درج شوې اداري په نوي نوم تنظیم کړي.

۳) د یادې اداري د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب ولایتي ریاستونه د یاد متحدالمال د صدرو له نېټې وروسته مکلف دي ترڅو د اړوندو ادارو له مسؤلینو سره د پېژندنې د همغږۍ غونډې له لارې د (اجراء شویو او د اجراء پرمهال او نا پلي شویو فرمانونو، حکمونو او هدایاتو) په تفکیک سره د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ عالي مقام د فرمانونو، حکمونو او هدایاتو د تطبیق له څرنګوالي څخه ډاډ ترلاسه او د سرغړونو او د هغوی د تحقق د څرنګوالي په اړه د معلوماتو غوښتنه وکړي او خپل راپور نوموړي مقام ته وړاندې کړي.

۴) له دې وروسته، د حکمونو او فرمانونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست بد افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ عالي مقام د ۱۴۴۴/۸/۲۸ نېټې په (۳۲) ګڼه فرمان کې د درج شوي قانون دندې او صلاحیتونه اجراء او عملي کړي. کوي

**په درنښت**

**مولوی شمس الدین «شریعتي»**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت لوی څارنوال**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ.